# د صحافت بابا حاجي ګل کرم

مفلس دراني

د هشـنغر زمکـه چـې ځـومره زرخېـزه ده هغـه هومره مردم خېزه ده چې په هر دور کښې ئې داسې ګڼ تـاريخ سـاز شخصـيتونه هغـه سياسـي دي کـه مذهبي، علمي دي که ادبي عن دا چې د ژوند داسې يـوه څانګـه نشـته چې پکښې د هشـنغر دي ښـېرازه زمکې خپله برخه نۀ وي شامله کړې. د آدم نه واخله تـردې دمـه تـاريخ ګـواه دے چې دې خـاورې داسـې داسې ککرۍ او شخصيتونه زېږولي دي چې د فکر او خيـال لوړتيـا تـه ئې د سر نه پټکي پرېوځي او د علم او پوهې ځلا ته ئې سترګې برېښي او چې کله د وطن د آزادۍ مرحله راغلې ده نو کۀ يو خوا حاجي صېب د ترنګزو د انګرېزانو خلاف توره تر ملا کړله نو بل خوا ستر مبارز خان عبدالغفار خان د ملک او قـام د آزادۍ دپـاره پـه ژبـه او قلـم جهـاد تـه لاس واچولـو او قـام ئې د جهالـت د تيـارو نـه راويسـتو دپاره ځـائے پـه ځـائے د آزاد اسلاميه سکولونو قت کېښـودو چې وروسـتو د دې نـه فـارغ شـوي بچـو د ژونـد پـه هـره لاره داسـې خاپونـه پرېښـودل چـې نـن ځلمے کهول هم د هغوي په پـل پـل ايښـے روان دي او خپل مستقبل روښانه کوي.

پـه دغسـې نومـوړو کښـې يـو نـوم د ارواښـاد حاجي ګل کرم دے چې د هشنغر په اخري کلي تنګي کښې د پښتنو پـه يـوه درنـه کـورنۍ کښې د مکرم خان کره **1924** کښې وزېږېدو او چې کله په ښۀ بد پوهـ شو او د ژوند پـه کـړه وړه لار ئې پښـې ابلـې او سر تور سر قدم کېښودو نو هغه بيا کله هم کۀ سخته وه کۀ نرمه، همت نۀ ؤ پرېښے او نۀ ئې سرټيټ کړے ؤ. هغه د يو داسې شخصيت خاوند ؤ چې کۀ يوخوا په صحيح معنو کښې خدائي خدمتګار ؤ او په هره سخته کښې هغه د **12** اګست **1948** د بابړې کربلا ثاني وه او کۀ د پنډۍ په لياقت باغ کښې د تحريک رهبر د ولي خان سره سره د پاکستان د نورو قومي ليډرانو د قتل عام سازش ؤ، هغه به په هره سخته او خطره کښې د يو صحيح خدائي خدمتګار په توګه موجـود ؤ او هغـه پـه دغـه نظريـه تـر آخـري سـلګۍ کلک ولاړ ؤ چې د دې شعر صحيح نمونه ؤ:

ښکل د وخت شريني د مفلس د قلم څُوکه کړه
خرڅه نظريـه پـه عقيـدو ئې چې د چا نۀ شـوه

چې کله ملک آزاد شو او هندوانو د دې سيمې نه هندوستان ته هجرت وکړو نو د تجارت سره سره

د ژوند نورو څانګو لکه تعلیم، صحافت او دغسې نورو ځایونو کښې یوه خلا پیدا شوه چې په هغې کښې صحافت هم شامل ؤ او ګڼ هغه اخبارونه لکه "پرتاب"، "ویربهارت ملاپ" او نور اخبارونه او مالکان ئې هندوستان ته لاړل. په چارسده کښې د دغسې اخبارونو نمائنده یو هندو فقیر چند چې د کتابونو او رسالو دوکان ئې ؤ، دغسې اخبارونو ته به ئې خبرونه لیږل، د پاکستان د جوړیدو نه پس دغې هندو هم هجرت وکړو، نو د دغې اخبارونو په ځائے د مسلمانانو اخبارونو لکه "زمیندار"، احسان"، "شهباز"، "جنګ" او انګریزي اخبار "پاکستان ټائمز" واخستو. نو دغه وخت حاجي صیب د دغې اخبارونو ایکي یو نمائنده ؤ خو هغه همیشه پاک، بې غرضه، بې طمعې او بې لالچه صحافت کړے دے، د هغۀ غرض د قوم خدمت ؤ، نۀ چې چا سره پره جنبه کول وو او نۀ ئې د دې علاقې د بدنامۍ او بدناموسۍ خبر چرته چلولے ؤ.

وائي چې یو ځل یوه کم عقله پښتنه پیغله چا ځلمي سره ووتله، حاجي صیب هغه خبر "جنګ" اخبار ته ونۀ لیږۀ نو د "جنګ" اخبار ادارې د هغۀ نه جواب طلبي وکړله چې تا دا خبر ولې نۀ دے رالیږلے، حاجي صیب ورته په جواب کښې ولیکل چې دا نۀ هندوستان دے او نۀ پنجاب دلته په دې خبره قتلونه کیږي، خاندانونه پرې تباه شي، تۀ د هغې پیغلې د مور پلار د ذهني کیفیت اندازه نۀ شي لګولے ځکه چې پښتون نۀ ئې او د دې سره ئې خپله استعفٰي د "جنګ" اخبار ادارې ته ولیږله، ځکه چې هغه یو اصولي صحافي ؤ او په اصولو هغۀ چرې هم چا سره سودا نۀ وه کړې. د دې نه علاوه هغۀ په خپل ذاتي خرڅ د صوبې دوره وکړله او په صوبه کښې ئې د انجمن نامه نګاران په نوم یو تنظیم جوړ کړو چې هغه ئې په متفقه توګه صدر وټاکۀ او د ډي آئي خان یو صحافي چې نوم ئې دا وخت زما د ذهن نه وتے دے جنرل سکتر او مفلس درانے ئې پریس سکتر ؤ او دغسې پیښور، نوښار، صوابۍ، مردان، کوهاټ او بنو ټولو علاقو له نمائندګي ورکړې شوه. د انجمن نامه نګاران باقاعده اجلاسونه به د پیښور زوړ پریس کلب کښې هره میاشت کیدل او چې کله پورې حاجي صیب کښې د ګرځیدو توان ؤ نو هر کال به حاجي صیب په خپله د دې رجسټریشن او په اجلاسونو خرڅ د خپله جیبه کولو اوس خو هر ځائے ځان ځاني ده، دغه د حاجي صیب د سحر انګیز شخصیت کمال ؤ چې د مختلفو نظریو او عقیدو دانشوارن لیکوال او صحافیان ئې په یو مرکز راغونډ کړي وو او د صحافت د پاره د هغوي دا خدمت ناقابل فراموش دے او چې کله هم د صحافت تاریخ لیکلے شي د حاجي صیب نوم به په زر زري الفاظو لیکلے شي او چارسده کښې چې نن د صحافت کومه ډیوه بله ده دغه د حاجي صیب برکت دے. کله چې په چارسده کښې پریس کلب د هغۀ د کشر زوي فیض محمد حاجي او د هغۀ د ملګرو په کوششونو جوړ شو نو حاجي صیب ئې تر عمره عمره د چارسدې پریس کلب سرپرست اعلي جوړ کړو.

هغه د یو ایماندار صحافي په حیث د دې قوم خدمت کړے دے، د قوم خبرې او مسئلې ئې د حکومت غوږو ته رسولې او د حکومت د پالیسو نه به ئې اولس خبرولو. نن خو هر څۀ کمرشلائز شوي

دي هغه سياست دے، که صحافت، ادب دے که ثقافت، د خدمت او شرافت معيار بس پېسه ګڼلې شوې ده ځکه خو وائي چې:

دا ادبـــي غونـــډې ادبـــي ډلـــې
نـــوم د ادب اخلـــي دوکانونـــه دي

سره د دې چې حاجي صېب سره د روايتي ډګرو پنډ نهٔ ؤ خو هغهٔ چې به اخبار له کله کوم خبر جوړ کړو نو ډېر د ښو ښو او پنډي روايتي ډګرو خاوندان به ورته ګوته په خُلهٔ وو او دغه وجه وه چې د اخبارونو، ادارو مالکانو، سياستدانانو او عام اولس به د هغوي ډېر قدر او عزت کولو.

هغهٔ نهٔ يوائې دا چې يو ښهٔ صحافي او سياسي ورکر ؤ، بلکې هغهٔ يو ښهٔ شاعر هم ؤ او ادب سره هم د حاجي صېب خدمات د هېرولو نهٔ دي. د هغهٔ په کوششونو په تنګي کښې په **1960** کښې "شاهين ادبي ټولنه" په وجود کښې راغله چې مخکښې ئې هغه صدر او بيا وروستو ئې هغه سرپرست اعلي جوړ شو، هم د هغهٔ په کوششونو په هغه زمانه کښې يوه دومره درنه مشاعره د "واوا خان" په حجره کښې کړې وه چې دومره لويه مشاعره په هشنغر کښې نهٔ مخکښې شوې وه او نهٔ وروستو وشوه. وائي چې دغې مشاعره کښې د صوبې د هرې سيمې لويو تقريباً شپږ نيمو شلو شاعرانو لکه حمزه بابا، سمندر صېب، اجمل خټک، ايوب صابر صېب ګډون کړے ؤ.

وائي دغه مشاعره د ماسختن د مانځهٔ نه پس شروع شوې وه، عن چې ملا سحر بانګ ووې او بيا د چايو څښلو نه پس تر ماسپښينه پورې جاري وه. چونکې حاجي صېب په خپله هم يو ښهٔ شاعر او خادم تخلص ئې کولو او په غزل او نظم دواړو ئې لاس ښهٔ بر ؤ، نهٔ پوهېږم چې چرته د هغهٔ د کلام چا سره څهٔ پاتې شته دے او که نهٔ؟ دغه خو به تلاش او تکل غواړي خو دلته زهٔ د هغهٔ يو حمد باري تعالٰي وړاندې کوم چې ګلاب نيستوال د ريډيو پاکستان د پاره هغه زمانه کښې ريکارډ کړے ؤ او حاجي د رحلت په درېمه کښې ئې په خوږ اواز واورولو.

## حمد

لوئے قدرت لرې الله شان دې اعظم دے
پېدا کړے دې په کُن تمام عالم دے
تهٔ واحد ئې لا شريک ئې ذوالجلاله
ټول مخلوق دې ثنا خوان په هر يو دم دے
مال دولت چا لره ورکړې خوشحالي کړې
راوستلے دې په چا باندې لوئے غم دے
په چا راولې بهار ژوند ئې راحت وي
د چا مخ باندې د اوښکو سېلاب سم دے
د نمرود اور دې ګلزار په ابراهيم کړهٔ
اسان کړے دې ايوب لره قسم دے
د ګناه مثال ئې نشته عفو غواړي
پېدا کړے دے په کُن تمام عالم دے

د دې حمد نه هم د حاجي صېب يو مستند شاعر په حېث پته لګي په دغې حمد کښې د شاعرۍ اکثر صنفونه موجود دي چې د هغهٔ په پوهه او علم ګواهي کوي خو هغه د ژوند سفر کوم چې هغهٔ په **1924** کښې شروع کړے ؤ په **26** دسمبر **2008** کښې خپل منزل ته ورسېدو.